مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۱/۰٤

# پـــردی ډول

چي پردي ډول تـه په ګډا شولو مونږ
خوار او ذلیل په دې دنیا شولو مونږ

د پـلار نیکونو لاره پرېښوده مونږ
د بل په پـل باندې پښه کېښوده مونږ

د بل په دروغ ویـنا خطا شولو مونږ
چي پردي ډول ته په ګډا شولو مونږ

خپله ځان وژنو رانه ځان ورک شوی
فرق د کافر او مسلمان ورک شوی

په ټول عالم کښي اوس رسوا شولو مونږ
چي پردي ډول ته په ګډا شولو مونږ

هـوس د حـورو مـو ارمان وخوړو
بې ځایـه حرص رانـه ایمان وخوړو

لیرې د خدای او پاک مولا شولو مونږ
چي پردي ډول ته په ګډا شولو مونږ

د پښتنو شان او شوکت ولاړلـــو
هغه عزت او شجاعت ولاړلـــو

اوس خو ټول بل ته ور په شا شولو مونږ
چي پردي ډول ته په ګډا شولو مونږ

په پردي جنګ کښي مو ځانونه مـړه کړل
خپل مو قومونه خپل مو وروڼه مـړه کړل

تـولې نـړۍ تـه د خـنـدا شولـو مـونږ
چي پردي ډول ته په ګډا شولو مـونږ

تذکر: هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند مطالب دیگر این نویسنده را هم مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!